مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۲/۲۳

# سمسوره قام دی، بیا پسي ځان دی

زړه که دی نرم، بدن سندان دی
دی یې بندي شو، هغه زندان دی

کونړ وطن دی، لوګر جهان دی
کور مي کابل، مسکن مردان دی

امن نښان او پوهه ارمان دی
روح مي چینه، مینه مي کان دی

دلته پوره شوه، وطن غیران* دی
زه تماشه کړم وخت د جانان دی

ښنګه شین دی، ښنګه وران دی
یار زړه دې ویر دشت ابدان** دی

نارې دي هسې، چې اول ځان دی
سمسوره قام دی، بیا پسي ځان دی

جنوري۲۰۱۷/ جلالکوټ

لمنلیک:

*غیران پولي واحد دی.

**دشت ابدان په کندوز کې یوه مشهوره دښته ده، چې پسرلي کې له حده زیاته شنه وي؛ خو کله چې غرني ګلان په ځانګړې توګه لاله پکې یو دم رازرغون شي؛ نو ټوله غونډۍ تکه سره واوړي.

سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ